مسیر
ورځپانه
نوی لید، نوی مزل
www.maseerdaily.af
دوشنبه د ۱۴۰۰ د زمري ۴مه | د ۲۰۲۱ د جولای ۲۶مه | ۷۵۱مه گڼه

# د جگړو شدت او د بشري حقونو نقض؛

## د بشري حقونو کمېسیون: جگړې او تاوتریخوالي شدت زرگونه افغانان له خپلو حقونو بې برخې کړي



۳

### ولې دواړه لــوري پر جگړه تمرکز کوي؟

۲ مخ

### افغانستان به کدام مسیر روان است؟!

۲ مخ

### د هوايي ډگر ساتل که بله ستره لوبه؟

۳ مخ

## سپینه مانې: طالبان دې د جگړې پر ځای له سوله ییزې لارې واک ته د رسېدو هڅه وکړي

د سپینې مانې وياندې جين ساکي په يوه خبري کنفرانس کې د خبرو پر مهال د طالبانو پر وروستيو ځرگندونو غبرگون ښودلی دی.
نوموړې ویلي، چې د افغانستان حکومت د امریکا ملاتړ له ځان سره لري او طالبانو ته په کار ده چې د جگړو له لارې نه، بلکې د سولې او مذاکراتو پر مټ واک ته د رسېدو لارې چارې ولټوي.
د نوموړې په خبره، افغانستان ته يوازې او يوازې د مذاکراتو او يوې سياسي هوکړې ته د رسېدو له لارې دايمي ثبات راتللی شي.
هغې ټينگار کړی چې د افغانستان اوسنی وضعیت د اندېښنې وړ دی او طالبانو ته په کار ده چې جگړې کمې کړي او مذاکرات چټک کړي، ځکه د اوسني وضعیت د پای ته رسولو يوازینی لار سوله او خبرې دي.
د امریکا دا ځرگندونې داسې مهال دي، چې په دې وروستيو کې د طالبانو د قطر دفتر يوه غړي سهيل شاهين له اسوشيټېډ پرېس خبري آژانس سره په مرکې کې ټينگار وکړ، ترهغې چې ولسمشر غني له واکه لرې نه شي او د اوسني حکومت پر ځای د سولې انتقالي حکومت رامنځته نه شي، د سولې خبرې نه شي بریالی کېدای. د نوموړي دغو ځرگندونو پراخ غبرگونونه هم راوپارول او دا يې د نويمې لسيزې د ترخې تجربې تکرار وباله.

## وانگ يي: د سیاسي جوړجاړي له لارې په افغانستان کې د سولې ټینگښت هڅو ته دوام ورکوو



۲ مخ

## کاروبار

۴ مخ




فیسبوک د ټولنیزو رسنیو تر ټولو لویه شبکه ده، چې شاوخوا نهه زره کارکوونکي لري او په ټوله نړۍ کې په ۱۱۱ ژبو فعالیت لري، چې کلنۍ گټه یې میلیاردونو ډالرو ته رسېږي.

## کرنې وزارت: په یو شمېر ولایتونو کې د امو په حاصلاتو کې د پام وړ زیاتوالی راغلی



کرنې وزارت وایي، په لغمان، هلمند، ننگرهار او کندهار ولایتونو کې د امو حاصلاتو مثبتې پایلې درلودې او دوی د دې مېوې د دودولو په موخه خپلې هڅې ډېرې کړې دي.
د یاد وزارت چارواکي وایي چې د لغمان په مرکز او یوشمېر ولسوالیو کې یې د ام ۳۰۰ ونې کېنولې دي. د لغمان د کرنې رییس انجنیر محمدجمیل خوشحال وایي، چې د دغه ولایت په مرکز او قرغیو ولسوالۍ کې تر نورو سیمو ډېر د امو ونې شتون لري، چې ښه پایله یې ورکړې او ښوال یې له حاصلاتو خوښ دي.
د نوموړي په خبره: «د لغمان په ولایت کې د امو ونو مخینه تر شلو کلونو رسېږي، چې دمگړۍ په دغه ولایت کې د امو نږدې ۳۰۰ ونې شتون لري، چې ډېرۍ یې په مرکز او قرغیو ولسوالۍ کې دي.»
د لغمان د کرنې رییس وایي، دوی په پام کې لري، چې په دغه ولایت کې د نورو گڼو مېوو ترڅنگ د امو عصري بڼونه هم جوړ کړي.

## رسولی: تاکنون شش میلیون تذکره‌های الکترونیکی در کشور توزیع شده است




مسؤلان اداره ملی احصائیه و معلومات به رئیس جمهور غنی گزارش داده‌اند که تاکنون شش میلیون تذکره های الکترونیکی توزیع شده و تقاضا برای هشت میلیون تذکره دیگر وجود دارد. با این حال، رئیس جمهور خواستار تسریع توزیع تذکره های الکترونیکی شده است.
ارگ ریاست جمهوری اعلام کرده است که رئیس جمهور غنی در نشستی با مسؤلان اداره ملی احصائیه و معلومات، گزارش آن‌ها در مورد فعالیت فنی، ساخت سیستم‌ها، توسعه و توزیع تذکره های الکترونیکی را شنیده است.
احمدجاوید رسولی، رئیس اداره ملی احصائیه و معلومات، گفته است که ضمن طرح سیستم کاری به خاطر افزایش نیروی بشری، در حدود شش میلیون تذکره الکرونیکی توزیع شده و تقاضا برای هشت میلیون دیگر وجود دارد.
محمداشرف غنی در این نشست تأکید کرده است که روند توزیع تذکره های الکترونیکی باید سرعت پیدا کند. این در حالی است که قانون ثبت احوال نفوس تا هنوز محل مناقشه است و بعضی‌ها با صدور تذکره های الکترونیکی بر مبنای این قانون مخالفت دارند.
روند توزیع تذکره های الکترونیکی که اخیراً شتاب بیش‌تر گرفته است، از همان آغاز جنجالی بود. این جنجال روی درج نام‌های اقوام و نیز کلمه افغان به عنوان معرف ملت، شکل گرفته بود.



## سرلیکنه

### ولې دواړه لوري پر جگړه تمرکز کوي؟

د روانې جگړې دواړه افغاني لوري لا هم نه یوازې یو د بل پر وړاندې تونده ژبه کاروي، بلکې په عملي ډول پر جگړه تمرکز کوي. که څه هم دواړه لوري ټینگار کوي چې ستونزه باید د خبرو له لارې حل شي او دوی دې چارې ته ژمن دي، خو پر څمکه بیا د سولې خلاف گامونه اخلي او جگړه کوي. طالبان پرلهپسې هڅې کوي چې لا زیاتې سیمې لاندې کړي او حکومت هم د سیمو د بېرته نیولو هڅې کوي او په ډېرو ولایتونو کې یې سخت هوایي بریدونه او بمباری هم پیل کړي دي.

خو ولې دواړه لوري خبره د سولې کوي، خو تمرکز یې بیا پر جگړه دی؟

دواړه لوري فکر کوي چې لا هم په اوس وخت کې سوله د دوی په گټه نه ده. طالبان فکر کوي چې که اوس سوله کوي، نو اړ دي چې ډېر مسایل ومني، څکه چې لا هم حکومت شته، جغرافیه لري، له سیمې او نړۍ سره اړیکې لري او څه ناڅه مشروعیت هم لري. له همدې امله له داسې یو حکومت سره په سوله کې اړ دي چې هغوی ته امتیاز ورکړي. طالبان فکر کوي چې دوی باید لا زیاتې سیمې ونیسي، دولت کمزوری کړي او بیا یې مجبور کړي چې د دوی د ډېرو شرطونو غوښتلو ته تیار شي. له همدې امله په شدت سره جگړه کوي چې په لنډ وخت کې ډېرې سیمې لاندې کړي. دوی د سولې خبرې هم کوي، څکه چې په دې ډول غواړي وښیي چې دوی سوله کوي او باور لري چې د افغانستان ستونزه د خبرو له لارې حل کېږي. حکومتي چارواکي فکر کوي چې دوی په واک کې دي او د سولې مانا به دا وي چې واک به د دوی له لاسه وځي، یا به هم دوی ته پکې ډېره کوچنۍ برخه رسېږي. له همدې امله دوی نه حاضرېږي چې له واک او څواک څخه تېر شي. دوی هڅه کوي چې طالبان کمزوري شي، ډېرې سیمې باید بېرته ترې ونیول شي او د دې تر څنگ حکومت باید د روانې بین الافغاني جگړې د دوام له امله د طالبانو پر ضد داسې تبلیغات وکړي چې د هغوی مشروعیت کمزوری شي او په دې ډول طالبان اړ کړي، چې د سولې په خبرو کې د حکومت مهم شرطونه ومني. په دې ډول دواړه لوري که څه هم په ټینگار او تکرار سره وایي چې دوی سوله غواړي او خبرو ته حاضر دي، خو باور یې پر دې دی چې لا هم د دوی د گټو د خوندیتوب له اړخه د سولې لپاره دا مناسب وخت نه دی.

دواړه لوري باید پوه شي چې د روانې جگړې دوام له یوه اړخه د اسلامي ارزښتونو او د افغانستان د خلکو د گټو خلاف کار دی، له بله اړخه به هېڅکله کوم لوری د زور له لارې بریالی نه شي. د جگړې دوام دواړه اړخه له پښو غورځوي، عام خلک پکې وژل کېږي او هېواد پکې ورانېږي. له همدې امله دوی باید نور د جگړې خبرې او عمل پرېږدي. همدا د سولې لپاره مناسب وخت دی او پکار ده چې دواړه اړخونه یو بل ته لاسونه ورکړي او سوله وکړي.

# افغانستان به کدام مسیر روان است؟!

محمد طارق صابر

هیئت بلند پایه حکومتی و طالبان پس از دو روز گفت‌وگو، اعلامیه مشترک را نشر نموده است. در اعلامیه توافق نمودند که روند مذاکرات صلح را تسریع و از بهر اعتماد سازی زندانیان هر دو جانب آزاد گردند. نشست در حال به پایان رسید که شدت جنگ ادامه داشت؛ نیروی‌های حکومتی مناطق را از طالبان تصرف می‌کند، که سقوط شده بود.

همچنین به مناسبت عید سعید قربان، دو طرف روی آتش بس پنج روزه توافق نموده و برای سرد شدن میدان‌های جنگ، ایجاد اعتماد و فضاء سازی به آتش بس طولانی مدت یک گام مثبت بوده می‌تواند.

اما سوال اساسی این است که افغانستان به کدام مسیر روان است و آیا صلح بزودی تأمین می‌شود؟

پیش از آن‌که به سوال پاسخ ارایه گردد، لازم است تا پروسه صلح از دید ملی، منطقوی و جهانی به بحث گرفته شود.

**صلح از منظر مردم و برخی حلقات داخلی**

تعریف صلح نزد مردم افغانستان روشن است و آن ختم جنگ می‌باشد. نزدیک به پنج دهه می‌شود که شعله‌های جنگ در کشور روشن است و چوب سوخت آن مردم مظلوم می‌باشد. در این مدت منفعت جنگ‌های ویرانگر را کشورهای منطقه، قدرت‌های بزرگ و افراد قدرت طلب به جیب زده است. تأمین صلح خواست و آرمان مردم عام می‌باشد؛ اما در داخل برای برخی حلقات به جای تأمین صلح حفظ منفعت، موقف و امتیازات مطرح است. این حلقات صلح را از عینک می‌بینند که قدرت شان به شکل مطلق حفظ شود، در حالی‌که صلح قربانی می‌خواهد. طالبان نیز بعد از ۲۰ سال جنگ، راه حل سیاسی را انتخاب نموده و این گروه صلح را خواستار است که به قدرت همه جانبه برسند یا نقش بارزتر نسبت به سایر گروها در حکومت آینده داشته باشند. جنگ‌های اخیر میان حکومت و طالبان آشکار می‌سازد که یک طرف در پی حفظ قدرت و طرف دیگر در پی بدست آوردن آن است.

**کشورهای منطقه چگونه صلح می خوا هد ؟**

افغانستان کشور محاط به خشکه است و موقعیت جیوستراتیژیک آن سبب شده، که میدان رقابت‌ها باشد. پاکستان بازیگر اصلی در گفت‌وگوهای صلح است و برخی رهبران طالبان پس از پروپاشی گروه شان در سال ۲۰۰۱م دوباره در آن کشور جمع شدند و فعالیت‌های مجدد را برای تأسیس امارت اسلامی از سر گرفتند. هر چند در این اواخر از طرف طالبان کوشش‌های شده که خود را مستقل جلوه بدهند، اما نقش و نفوذ پاکستان بالای این گروه هنوز هم پا برجاست. این کشور درک نموده که گفت‌وگوهای صلح به یک مرحله حساس رسیده است و بعد از صلح از طریق طالبان می‌خواهد نفوذ بیشتر در افغانستان داشته باشد و هند را منزوی نماید. هند به جای طالبان از حکومت فعلی حمایت می‌کند و چند قبل گزارش‌های نشر شده بود که به ملیشه‌ها سلاح توزیع می‌نماید، تا در مقابل طالبان جنگ نمایند. هند این گروه را به خود تهدید و برای پاکستان وسیله منفعت و نفوذ در افغانستان می‌داند.

چین و روسیه خواستار صلح می‌باشد و بار ملامتی ناامنی‌ها را در افغانستان همیشه بر دوش امریکا گذاشته است. این دو کشور رقیب‌های سرسخت منطقوی و جهانی امریکا می‌باشند؛ از مدت‌ها تلاش دارند رهبری جهان را تصاحب کنند و بخاطر نایل شدن به این امر با امریکا در بخش‌های نظامی، تسلیحاتی، اقتصادی، سیاسی، فناوری وغیره رقابت می‌نمایند. ناامنی افغانستان می‌تواند به این دو کشور نیز برسد؛ به همین دلیل برخی کشورهای آسیایی میانه همرای روسیه هماهنگی نموده و در مرزهای خویش نظامیان را جا به جا نموده است. اگر افغانستان نا امن باشد، تمرگز این دو کشور بالای حفظ سرحدات متمرگز می‌گردد و از پیشرفت‌های که بخاطر ابر قدرت شدن نیاز است، عقب می‌مانند

**جهان از صلح افغانستان چه انتظار دارد؟**

صلح و جنگ افغانستان برای جهانیان به دلیل حایز اهمیت است، که پای ابر قدرت فعلی «امریکا» در آن دخیل است. هر چند امریکا اعلام نموده که ماموریت نظامی را در افغانستان به پایان رسانیده، ولی از حضور سیاسی و استخباراتی این کشور چشم پوشی شده نمی‌تواند. کشورهای اروپایی مطابق پیمان ناتو در معادلات سیاسی و جنگی در کنار امریکا قرار دارند؛ با آنکه در برخی مواقع منافع متضاد دارند. در پروسه صلح میان افغان‌ها، امریکا محور بحث است. این کشور صلح را در افغانستان می‌خواهد که شکست نظامی اش فراموش شود. شاید برای خیلی‌ها شکست امریکا در افغانستان اغراق آمیز باشد، اما این کشور به هدف که آمده بود موفق نگردید. هدف امریکا از بین بُردن کامل تروریزم بود که در آن طالبان نیز شامل بودند. طالبان از بین نرفتند و دوباره برای حکومت افغانستان و امریکا درد سر ساز شدند و گروهای جدید نیز ظهور کردند. القاعده که محکوم به حملات ۱۱ سپتمبر بود تا حال در افغانستان فعال است و جنرال‌های امریکایی به آن اعتراف می‌کنند. به همین دلیل امریکا در اذهان جهانیان از دید نظامی شکست خورده است. این کشور در دیپلوماسی و ترفندهای سیاسی پشینه تاریخی دارد و هرگاه از دید نظامی محکوم به ضعف و شکست شده، مقابل را به گفت‌وگوهای سیاسی دعوت نموده، شکست نظامی را جبران کرده و به رقیب خود ضربات محکم را وارد ساخته است. اینکه طالبان را به گفت‌وگوهای سیاسی وداشت با وجودی که گروه نظامی بود، قدم نخست پیروزی سیاسی برای این کشور است. جنگ جاری به امریکا فرصت است که اذهان جهانیان را دوباره از امریکا شکست خورده به امریکا ناجی و قهرمان تبدیل بسازد. در این اواخر میدان جنگ میان حکومت و طالبان داغ‌تر شده است. هر چند امریکا در صدد است تا برای رقیبان منطقوی خود ناامنی و چالش خلق کند، اما اگر اوضاع پیچده تر شود در دقیقه ۹۰ دوباره بالای طالبان و حکومت فشار وارد می‌کند تا رول خود را به‌حیث ابر قدرت جهان در قبال قضیه افغانستان ادا ساخته باشد. همچنین نمی‌خواهد خلاء سیاسی و نظامی این کشور را رقیبان منطقوی پُر کند. بازی‌های که در افغانستان جریان دارد چین، روسیه در آن مستقل اند. هند و پاکستان هم رکاب امریکا است و به اشکال و اسلوب‌های متفاوت منافع متضاد خویش را با امریکا گره زده است.

**نتیجه‌گیری**

در افغانستان بازی‌های جدید نیابتی روی دست گرفته شده است و امریکا از طریق مهره‌های منطقوی خود«هند، پاکستان» در صدد است تا پروسه صلح به مسیر منفعت‌های امریکایی ختم گردد. حلقات داخلی نیز در پی حفظ و بدست آوردن قدرت می‌باشند و ادبیات جنگ آنان نسبت به صلح متبارز است. توزیع سلاح برای ملیشه‌ها و تأکید هر دو جانب روی جنگ، میدان را برای بازی‌های نیابتی هموار ساخته است. اگر حکومت و طالبان به همین شکل پیش بروند، آینده نه چندان دور افغانستان به مسیر جنگ‌های داخلی ختم می‌گردد و در آن صورت تأمین صلح به جستجوی آب در کویر می‌ماند. هنوز هم برای هر دو طرف فرصت است و به جای نمک پاشی روی زخم ناسور افغانستان، لازم است آن را التیام بخشند و آله دست کشورها قرار نگیرند.

# وانگ یي: د سیاسي جوړجاړي له لارې په افغانستان کې د سولې ټینگښت هڅو ته دوام ورکوو



د چین د بهرنیو چارو وزیر وانگ یي له خپل پاکستاني سیال سره پر افغان سولې او بین الافغاني مذاکراتو خبرې کړې او د دې پروسې د ملاتړ ژمنه یې کړې ده. نوموړي ویلي چې د سیاسي جوړجاړي له لارې په افغانستان کې د دایمي سولې د ټینگښت هڅو ته دوام ورکوي. له دې سره د پاکستان بهرنیو چارو وزارت په خپله رسمي ټویټرپاڼه لیکلي: «دواړو خواوو هر څه ژر د یوه سوله‌ییز، باثباته، متحد او سوکاله افغانستان د تحقق په موخه، د افغانانو په مشرۍ او مالکیت د سولې او پخلاینې پروسې د تسهیل او ملاتړ لپاره خپله ژمنتیا تکرار کړه.»

په اعلامیه کې زیاته شوې چې د دوی موخه یو داسې سوله ییز، باثباته، متحد او سوکاله افغانستان دی، چې د ترهگرۍ خلاف کلکه مبارزه او له گاونډیو سره په همغږۍ کې ژوند وکړي. بلخوا د حکومت د رسنیو او اطلاعاتو د مرکز مشر دواخان مینه پال بیا وایي چې د سیمې هېوادونه هم باید د ترهگرۍ له ملاتړو سره مبارزه وکړي. هغه زیاتوي: «ترهگري اوس یوازې د افغانستان د حکومت او خلکو لپاره گواښ نه دی، بلکې دا له پولو اوښتی گواښ دی او د سیمې د هېوادونو دا مسوولیت دی چې له ترهگرۍ او د ترهگرۍ له ملاتړو سره مقابله وکړي.»

د چین او پاکستان د بهرنیو چارو وزیرانو په لیدنه کې پر دې هم ټینگار شوی چې دغه دواړه هېوادونه به د افغانستان د سوله ییزې بیارغونې او د افغانستان لخوا د خپلواکې ودې لپاره د خپلو ظرفیتونو د پیاوړي کولو ملاتړ کوي. دغو هېوادونو همدا راز له افغانستان سره د سوداگریزو او اقتصادي اړیکو پراختیا ته هم د چمتووالي ژمنه کړې ده.

له دې سره هممهاله گلوبل ټایمز د چین د بهرنیو چارو وزیر وانگ یي له خولې لیکلي چې د افغانستان گاونډي هېوادونه به په دغه هېواد کې د امنیتي وضعیت د خرابېدو له کبله د خپرېدونکو ناوړه اغیزو د مخنیوي لپاره گډ گامونه اخلي.

په رپوټ کې راغلي چې وانگ یي د چین د سویل لوېدیځ سیچوان ولایت په مرکز چېنگدو کې له شاه محمود قریشي سره گډې خبري ناستې ته ویلي، د امریکایي ځواکونو بېړني وتل نه د ترهگرۍ ضد هدف د ترلاسه کېدو لامل شول، نه یې هم دغه هېواد ته سوله راوسته، بلکې یوه ستره امنیتي تشه یې رامنځته کړه.

# د هوايي ډګر ساتل که بله ستره لوبه؟

عبدالوحيد وحيد

زمونږ هیواد ته اوس د نړیوالو په ذهنونو کې هغه پخوانی برم نه دی پاتې. اوس د افغان له نوم څخه د هیڅ دښمن د ویرې احساس نه کیږي. دښمن اوس پوهیږي چې اړتیا نه لري، زمونږ د وژلو تکلیف وکړي، ځکه چې مونږ په خپله سره وژنو. اوس مونږ په خپلمنځي دښمنۍ کې هغه پخواني ټول دودونه او سرې کرښې ختمې کړې دي، چې په عذر باندې کور ته راغلی دښمن مو نه واژه، دښمن مو د شا لخوا نه ویشته، په مسجد او هدیره کې مو نه مړ کاوه، دښمن به مو چې وواژه، نو ځادر به مو ورباندې غوړاوه، د لمانځه پر مهال د ښځې او ماشومانو پر وړاندې مو نه واژه. اوس یې ښه په زغرده په هر ځای کې به هر ډول وژنو، په ځینو مواردو کې خو ټول فامیل هم له خاورو لاندې کوو، سوځو یې هم او نوره بې عزتي یې هم کوو.

له کله نه مو چې په انسانیت پېژندنه کې د دوکتورا درلودونکی د افغانانو د وژلو او ځپلو ګواښونه کوي، د سولې، عاطفې، ترحم، عفوې او دعوت بالموعظت الحسن دین پورې تړلې ډلې مو د وژلو، نړولو او سوځولو لاره نیسي، نو له امریکا وروسته دا دي ترکیه هم له امریکا سره زمونږ د هیواد واکداري ته یې ملاتړلې ده. غواړي د کابل نړیوال هوایي ډګر د ساتلو په نوم له امریکا سره د اېس څلور سوه دفاعي روسي سیستم د پېرلو له امله په لوړه کچه خرابې شوې اړیکې بېرته ورغوي او په زیاته پیمانه د مالي، لوجستیکي، سیاسي او نورو امتیازاتو تر لاسه کولو وروسته په بدل کې دلته پاتې شي. له مونږ سره مشوره هم نه کوي او مونږ هم د جګړو له امله د ترکیې د ښکېلتیا ګټو او زیانونو څېړلو ته بېکاره شوي نه یو.

مونږ باید ومنو چې که نړیوال ډیپلوماتیک بنسټونه دلته پاتې کیږي، نو د ګډوډۍ په صورت کې له اوسني جوړښت او امکاناتو او په وروستیو اونیو کې د سقوط تسلسل ته په کتو زمونږ امنیتي ځواکونه د هوايي ډګر د ساتلو او بهرنیو ډیپلوماتیکو مراکزو پرسونل ته د خوندي وتلو ضمانت نشي کولای. د طالبانو په ژمنو باندې هم نړیوال کله باور نه کوي. اړتیا شته چې داسې ځواک ته د کابل او ځینو نورو ولایتونو هوایي ډګرونو ساتلو مسوولیت وسپارل شي، چې په کور دننه او بهر حساسیتونو او پاروونکو غبرګونونو ته لاره نه پرانیزي. پوهیږو چې ننۍ ترکیه د پروني عظمت د بېرته تر لاسه کولو په تړاو فکر هم کوي او کار هم. د همدغه هدف لپاره د نړیوال سیاست په لوبو کې د ترک تباریت او اسلامیت دواړه کارتونه کاروي. دغه د ترکیې خپل سیاست دی او مونږ ورباندې نوره تبصره نه کوو. البته د خپل هېواد په جغرافیه کې مونږ حق لرو چې د ترکیې په کړنو غبرګون وښیو. دغه هېواد په جنایي قضیو کې د مجرمینو د ژغورلو په موخه د هغوی د خوندیتوب لپاره د ډیپلوماتیکو اسانتیاوو په برابرولو او د ترک تبارو بشري جنایتونو له مرتکبینو سره ژورې اړیکې د افغاني ټولنې په ذهن کې د ولسمشر اردوغان د اسلامي هویت په هکله اندېښنې را پاروي.

ښه به دا وي چې د سبا د ماتم د مخنیوي لپاره همدا نن په زغرده یو بل ته خبرې وکړو. د افغانستان د ویشلو په هکله د امریکا د اوسني ولسمشر پخوانی څرګندونې، د ډاکټر نجیب د حکومت په اخري وختونو کې د ځینو پرچمیانو او دوستمي ملېشو لخوا د کابل د هوايي ډګر ساتلو بوږنوونکې تاریخ، په پروژه کې د پاکستان ښکېلولو تر شا پټې موخې، د ولسمشر اردوغان لخوا طالبانو ته د اشغالګرو خطاب چې کیدای شي د اشغال موخه یې په شمال کې د ترک تبارو سیمو نیول وي. د ارګ انزوا او چوپه خوله له مونږ سره پوښتنې پیدا کوي.

مونږ شک کوو، هسې نه چې دغه درې واړه په ګډه زمونږ د هیواد لپاره د خطرناکو پلانونو د عملي کولو لپاره سره یو ځای شوي وي. اخر زمونږ د هیواد په تړاو په اوسنیو حساسو شېبو کې د یادو دریو داسې هیوادونو لخوا څه روان دي چې زمونږ د هیواد په تړاو یې په تګلارو او کړنلارو کې نیمګړتیاوې شته؟ آیا زمونږ چارواکو، طالبانو او سیاستوالو کومه معامله کړې ده، عمدي تجاهل کوي او که په تیارو کې ساتل کېږي؟ بالاخره که اړتیا هم وي، نو دغه کار ولې داسې هېواد ته نه سپارل کېږي چې د افغانستان په قضایاوو کې د لاسوهنې په تور تورن نه وي؟

په پښتو ژبه کې یو متل دی وایي د بېکاره کور مېلمه واکدار وي. په رسنیو کې د خپرو شویو راپورونو له مخې، ترکیه غواړي له سورېې څخه جنګیالي استخدام او کابل ته یې د هوايي ډګر ساتلو ته راوړي. دغه ډول کارونه په نړۍ کې د خورا پېچلیو عزائمو په موخه تر سره کیږي. ترکیې دېته ورته کارونه په سوریه او لیبیا کې هم کړي دي او په هغو هېوادونو کې یې ستونزې جوړې کړې، چې کورني او بهرني حساسیتونه یې هم را پورته کړي دي.

د افغانستان په سیاست کې د قومونو د استازیتوب په نوم لوبېدونکې څېرې د قوم د یوې ځانګړې سیمې استازي کیدای شي، خو هیڅ سیاسي مشر په هیڅ وجه د هیڅ قوم استازیتوب نشي کولای. امکان لري چې ممکن نږدې درې لسیزې وړاندې د روسیې په شان داخل ترکیه د خپلو ناروا موخو تر لاسه کولو لپاره له همدغه سپارل شوي مسوولیت څخه په استفادې خپل اجنټان پیاوړي کوي او یو ځل بیا زمونږ ملي امنیت غواړي چې وننګوي.

داسې شک هم شته چې امریکا او ترکیه په ګډه د خپلو ګډو ګټو په چوکاټ کې په سیمه کې د افراطي ډلو فعالیت ته لاره هواره کړي او بیا به چین په سینکیانګ ایالت کې د شرقي ترکستان د داعیې د ژوندي کولو په تړاو د ترکیې د دې ښکېلتیا په هکله غبرګون وښیي. دغه غبرګون به یقیناً په سیمه کې زمونږ ملي ګټې وګواښي او له چین سره به مو اړیکو ته زیان واړوي.

د امریکا او ترکیې تر منځ ګډ کار کول به د افراطیت د مفکورې د خپرولو له ویرې د منځنۍ اسیا د هیوادونو او د روسیې حساسیتونه را وپاروي.

تر هرڅه مهمه دا ده چې ترکیه غواړي د خپل اسلامي او تباري کارت په کارولو، په منځنۍ اسیا کې خپل نفوذ پراخ کړي، امریکا به د خپلو پخوانیو پلانونو د عملي کولو پر لوري مخ پر وړاندې لاړه شي، پاکستان به د ستراتیژیک ژوروالي موخې ته د رسېدو لپاره د امریکا او ترکیې له سرپرستۍ لاندې فرصت تر لاسه کړي. مونږ به یوازې زیانونه وینو او خدای مه کړه چې ځمکنۍ بشپړتیا مو له لاسه ورنه کړو.

**د حل لاره**

اوسني شرایط دا ایجابوي چې د جګړې دواړې خواوې باید د خپلو مسوولیتونو د درک له مخې دغه تهدید جدي وګڼي، د یو بل د تسلیمېدو خوبونه لیدل، د سولې په تړاو یو بل پړ ګڼل او په یو بل تورونه لګول پرېږدي. سوله له خپلې مانا او مفهوم سره ومني. که په دغه هېواد کې ګډ ژوند کوو، نو نن یو ځل بیا وایم چې د واک د انحصار فکر لیونتوب دی.

زه له نورو سره د طالبانو په ګډ کار کولو کې هیڅ قباحت نه وینم. هغوی په فساد کې د دې ډلې احتمالي ښکېلتیا بانه نیسي. که د ښکېلتیا خبره وي، نو اوس هم د هغوی په لیکو کې فساد شته. باور لرو چې که جګړه ختمیږي، کار اهل کار ته د سپارلو تعهد کیږي، د مجازاتو او مکافاتو اصل ته ژمن پاتې کېدل یقیني وي، که د قانون پلي کولو اراده موجوده وي، که په مدیریت کې وړتیا موجوده وي او له قانون څخه د معافیت کلتور ته د پای ټکی ایښودل کېږي؛ نو په ګډ کار کولو کې هیڅ حرج نشته. متخلف شخص یا اشخاصو ته د قانون له مخې عدلي او قضایي محاکم سزا ورکوي او همدغه د جرایمو ګراف راښکته کیږي. داسې سپېڅلې ټولنې کله هم نه دي جوړې شوې چې د فساد جرم او جنایت ګراف پکې صفر ته راښکته شوی وي. که دغه کار شونی وای، نو عدلي او قضایي ادارو ته به هیڅ اړتیا نه وه.

# د جګړو شدت او د بشري حقونو نقض؛

## د بشري حقونو کمېسیون: جګړې او تاوتریخوالي شدت زرګونه افغانان له خپلو حقونو بې برخې کړي

په افغانستان کې د وروستیو جګړو او نا امنیو له زیاتېدو سره هممهاله زرګونه کورنۍ له خپلو مېنو بې ځایه شوي او په ناوړه وضعیت کې ژوند کوي. که څه هم د نړیوالې ټولنې او په کور دننه د جګړې پر ښکېلو غاړو فشارونه پر ډېرېدو دي، ترڅو د سولې یوه نسبي هوکړه رامنځته شي، خو پر دې هڅو سربېره، لا هم په ډېریو ولایتونو کې جګړو او نښتو زور اخیستی دی. په دغو جګړو کې پر ښکېلو خواوو سربېره، لسګونو ملکیانو ته مرګ ژوبله اوړي او سلګونه کورنۍ د خپلو سیمو پرېښودو ته اړ شوي دي. بلخوا د افغانستان د بشري حقونو خپلواک کمېسیون په افغانستان کې روانو جګړو او د تاوتریخوالي لوړې کچې اندېښمن کړی او ټینګار کوي چې اوسني وضعیت زرګونه افغانان له خپلو لومړنیو بشري حقونو بې برخې کړي دي.

د دغه کمېسیون د رسنیو د برخې مسوول ذبیح الله فرهنګ مسیر ورځپاڼې ته وویل چې د جګړې ښکېلې خواوې په پرله په ډول د جګړې اصول تر پښو لاندې کوي او د دې لړۍ دوام به د افغانستان د راتلونکې لپاره ناوړه پایلې ولري.

نوموړی دغه راز زیاتوي: « د بشري حقونو په اړه چې موږ کوم راپورونه جوړوو، د دې ښکارندویي کوي چې په افغانستان کې د بشري حقونو وضعیت د جدي اندېښنې وړ دی، د افغانان له جدي ستونزو سره مخ دي، د جګړو او تاوتریخوالي شدت د دې سبب شوی چې خلک په ډېرو برخو کې له خپلو حقونو بې برخې شي».

نوموړی دغه راز له افغان حکومت او طالبانو غوښتنه کوي چې د جګړې پر ځای د سولې خبرو ته لومړیتوب ورکړي او خپلې غوښتنې دې له سوله ییزو لارو ترلاسه کړي. په ورته مهال په کابل کې د امریکا سفارت هم د طالبانو وروستیو زیاتېدونکو بریدونو ته غبرګون ښودلی دی. یاد سفارت ویلي چې د طالبانو روان بریدونه د سولې هڅې زیانمنوي، خلک بې ځایه کوي او ژر تر ژره باید ودرول شي. دغه سفارت له دواړو خواوو غوښتنه کړې چې د سولې جدي خبرې پیل کړي او روان تاوتریخوالی دې پای ته ورسوي.



بلخوا د امریکا دفاع وزیر لوید اسټن وایي، د افغان امنیتي ځواکونو لومړنۍ دنده دا ده ترلاسه کول دي، چې د لاسه وتلو سیمو د بېرته نیولو لپاره له عملیاتو وړاندې د جګړو په لیکو کې د طالبانو د پرمختګ بهیر ورو کړي. د رویټرز خبري آژانس د راپور له مخې، د امریکا د دفاع وزیر د الاسکا د ایالت د الیسین په هوايي اډه کې خبریالانو سره په خبرو کې ویلي، چې افغان امنیتي ځواکونه په ګڼ مېشتو سیمو کې خپل حضور پیاوړی کوي.

اسټن زیاته کړې: «په دې اړه، چې ایا دا به د طالبانو د پرمختګ مخه ونیسي او که نه، فکر کوم لومړی کار، چې باید وشي د هغوی د پرمختګ د سرعت د کمېدو څخه ډاډ ترلاسه کول دي».

د رویټرز خبري آژانس د راپور له مخې، د افغانستان دفاعي ځواکونو د طالبانو پر وړاندې پرخپله ستراتېژۍ بیا کتنه کړې، چې له مخې یې د کابل او نورو ښارونو په څېر د مهمو ساحو، چې سرحدي سیمې او مهمې زیربنایي پروژې هم پکې شاملې دي، د امنیت د ټینګېدو لپاره د دغو ساحو شاوخوا ته ځواکونه پیاوړي کوي.

دا په داسې حال کې ده چې د امریکا پوځ د جمهور رییس جو بایډن د امر پر اساس په پام کې لري، چې د اګسټ تر ۳۱ مې په افغانستان کې خپل پوځي ماموریت پای ته ورسوي. د امریکا پوځ تازه اعلان کړی، چې له افغانستان څخه یې د ځواکونو د وتلو بهیر تر ۹۵ سلنې پورې بشپړ کړی دی.

## د کتاب خبرې

# انسان د مانا په لټون

لیکوال: **ویکتور فرېنکل**
ژباړن: **میراحمدیاد**




### د بېګار د کمپ (زندان) تجربې

په بدن کې مو چې وروستۍ وازده هم ویلې شوه، نو داسې شوو لکه تش هډونه چې په جامو او پوټکي پوښل شوي وي. په دې وخت کې مو نور د خپل بدن خوړل لیدل. بدن به مو خپل پروټین هضمول او پلې به ورسره ورکېدې. نور په بدن کې د درېدو قوت نه و. زموږ د وړې ټولنې غړي یو په بل پسې مړه کېدل. تر څو ځله کتو وروسته به په نښو ډېر ښه پوهېدو چې «دا سړی نور د پاتې نه دی» یا «ورپسې د ده وار دی.» موږ به یو بل ته په غوږ کې پسېدو. بیا مو چې هره ورځ سپړې لټولې، د شپې به مو چې خپل لوڅ بدنونه ولیدل، فکر به مو کاوه چې دا زموږ بدن خو له اوسه تیار مړی دی. له ما به څه جوړ شي؟ زه د انساني غوښې د لویې کتلې یوه وړه ټوټه یم… . داسې ټوټه چې اغزن سیم ترې چاپېره دی او په ختینو چوپړیو کې پراته دي. هره ورځ دغه ټوټه غوښه خوسا کېږي، ځکه ساه پکې نه شته.

مخکې مې وویل چې د بندیانو ذهن ته به د هغوی د خوښې د خوړو فکرونه ورتلل، د دې فکرونو مخه نه نیول کېده او په زور به د زندانیانو ذهن ته ورتلل. تاسو ښایي پوه شئ چې په موږ کې تر ټولو قوي خلک هم هغه وخت ته په تمه وو چې یو ځل بیا نسبتاً ښه خواړه وخوري. یوازې خوړو ته په تمه نه وو، بلکې د هغه انسان ډوله ژوند ختمېدو ته په تمه وو چې موږ پکې له خوړو پر بل هېڅ شي فکر نه شو کولای.

څوک چې تجربه نه لري، دوی د هغه اروا وژونکي ذهني او ارادي قوت کش مکش نه شي درک کولای چې یو وږی انسان یې تجربه کوي. بندیانو به په لویه کنده کې کار کاوه، سهار نهه نیمې لس بجې به زنګ ووهل شو، د ډوډۍ لپاره به نیم ساعت وخت و. په همدې نیم ساعت کې به یې راباندې ډوډۍ وېشله، البته که ډوډۍ به وه. که سرکاریګر به پرې نه خپه کېده، نو خلکو به وخت په وخت ترې د ساعت پوښتنه کوله، بیا به یې په ډېره نرمۍ د کورتۍ په جېب کې ایښې ډوډۍ ته لاس یووړ، لومړی به یې په خپلو لوڅو یخ وهلو ګوتو تخته کړه، بیا به یې ترې یو کپ رابېل کړ. په خوله به یې کړ، بیا به یې خپل ټول ارادي قوت وکاراوه، په قوي هوډ به یې ډوډۍ بېرته جېب ته دننه کړه او له ځان سره به یې ژمنه وکړه چې تر ماښامه به یې ساتم.

موږ ته به د ورځې په پام کې دا یو کپ ډوډۍ راکول کېده او موږ ډېر ځله پر هغو ګټورو او بې ګټو لارو چارو بحثونه کول چې ډوډۍ یو ځل وخورو که لږه لږه یې وخورو. زندانیانو دوې فکري ډلې درلودې. یوې ډلې به ویل چې ډوډۍ دې سمدستي وخوړل شي، دا دوې ګټې لري، یوه خو دا چې لوږه ورسره سمدستي که د لږ وخت لپاره هم وي، ختمېږي او بله دا چې د ډوډۍ د ورکېدو او پټېدو مخه هم نیسي. دویمې ډلې به ویل چې نه، ډوډۍ دې لږه لږه وخوړل شي. دوی خپل دلایل درلودل او زه بلاخره له همدې ډلې سره شوم.

د زندان په شپه او ورځ ژوند کې تر ټولو سخته شېبه د راویښېدو وه. سهار به لا تیارې خپرې وې. د زنګ بد غږ به راغی او موږ به چې تر پرونۍ ستړیا وروسته په خواږه خوب ویده وو، ترې راویښ به یې کړو. په دې وخت کې به مو له لمدو بوټانو سره پهلواني راواخیسته، پړسېدلې او زخمي پښې به مو په زوره پکې تخته کولې. زندانیانو به دردناکې چیغې وهلې، یو به یې پښې خوږېدې او بل به یې چې د بوټانو د بندونو پر ځای کوم سیم کاراوه، هغه به یې پښې پرې کولې. پر یوه کس ښه پوهېدم چې قوي انسان و؛ خو یو سهار یې د ماشومانو غوندې ژړل، ځکه بوټان یې واړه شوي وو او دی باید پښې لوڅې بهر میدان ته د کار لپاره وتلی وای. په همدې غمجنو شېبو کې ما یو سکون وموند، له جېبه مې ډوډۍ راوایسته او په خوند مې ترې یو کپ وکړ.

**دوام لري...**

# فیسبوک

حشمت الله نوري

فیسبوک د ټولنیزو رسنیو یوه شبکه ده، چې د ۲۰۰۴ کال د فبرورۍ په څلورمه یې مارک زوکر برګ د هغه بنسټ کېښود. له ده سره په دې کار کې د هغه ملګرو ادواردو سوري، اندرو مک کالم، داستین مسکوتیز او کریس هیوز هم مرسته کړې ده. دوی پنځه واړه په هارورډ پوهنتون کې پر زده کړو بوخت وو. په لومړي سر کې چې فیسبوک جوړ شو، نو یوازې د هارورډ پوهنتون محصلینو پکې اکونټ جوړولی شوی. د وخت په تېرېدو دا لړۍ پراخه شوه، بیا د بوستون او استنفورډ پوهنتونو محصلینو هم دا چانس پیدا کړ چې په هغه کې اکونټ جوړ کړي. وروسته له دې چې په امریکا کې ډېری مرکزونو او پوهنتونونو په فیسبوک کې د اکونټ جوړولو اجازه تر لاسه کړه، دا لړۍ پراخه شوه، دوی اجازه ورکړه چې د نړۍ په ګوټ ګوټ کې تر دیارلس کاله ډېر عمر لرونکي کسان کولی شي چې د فیسبوک اکونټ جوړ کړي.

فیسبوک په چټکۍ وده کوله او تر نن پورې خپلې ودې ته ادامه ورکوي، ښایي حیران شئ چې په ۲۰۱۲ کال کې د فیسبوک کاروونکي تر یو میلیارد کسانو واوښتل. د فیسبوک په خبره، له دې ډلې ۸،۷ سلنه یې جعلي اکونټونه دي. فیسبوک هره ورځ سلګونه تیرابایټه معلومات پر خپلو سرورونو ذخیره کوي.

فیسبوک په لومړي سر کې هومره پانګه نه درلوده، ځکه خو په لومړي سر کې ډېر بریالی هم نه و او کارونه یې له خنډونو سره مخ وو، خو په ۲۰۰۵ کال کې اکسل پارټنرز کمپنۍ ۱۲،۷ میلیونه ډالر پر یاده کمپنۍ پانګونه وکړه، په همدې وخت کې جیم بریر کمپنۍ هم یو میلیون ډالر پر فیسبوک پانګونه وکړه، تر دې چې تر ۲۰۰۹ کال پورې فیسبوک د نړۍ تر ټولو محبوبه ټولنیزه شبکه شوه. په هغه وخت کې انټرتینمنټ مجلې هغه د لسیزې تر ټولو غوره سایټ بللی و. فیسبوک وروسته په یوه تجارتي کمپنۍ بدل شو او په ۲۰۱۲ کال کې یې د خپلو سهامو پر پلور لاس پورې کړ. په دې توګه نو په یوه عمومي شرکت بدل شو، یادې کمپنۍ په ۲۰۱۲ کال کې د ۱،۱ بېلیونه ګټې په درلودلو په ۵۰۰ غوره کمپنیو کې راغله او په ۲۰۱۳ کال کې یې ځان ۴۲۶م مقام ته را ورساوه.

فیسبوک نو په دې وخت کې ورځ تر بلې پراخېده، د ۲۰۱۴ کال په فبرورۍ کې یې د پیغام لېږلو شرکت وټس‌آپ واخیست. دوی بریالي شول چې په ۱۹ میلیارده ډالره یاده شبکه واخلي، دوی د دې سرکت د اخیستو لپاره پوره پیسې نه درلودې، دوی اړ شول چې ۴ میلیارده ډالر نقد ورکړي، دوی په ۱۲ میلیاردو ډالرو کې په فیسبوک پورې اړوند سهام ورکړل او ۳ میلیارده ډالره وروسته د واټس‌آپ مشرانو او پنځوسو کارکوونکو ورکړل. کله چې زوکر برګ واټس‌آپ واخیست، نو هغه خت یې وویل واټس‌آپ د نړۍ تر ټولو غوره سرویس دی او د اخیستو فکر یې یوازې ۱۱ ورځې مخکې زما ذهن ته راغی او دا دې اوس مې واخیست. له دې وروسته د فیسبوک بل ستر کار د یو میلیارد ډالرو په ارزښت د انسټاګرام ټولنیزې شبکې اخیستل وو. زوکر برګ هم د خپلو کارونو د پراختیا لپاره واټس‌آپ او انسټاګرام واخیستل او په دې توګه یې خپل کاروبار نور هم پیاوړی کړ.

فیسبوک د ۲۰۱۵ کال په فبرورۍ کې یوه ځانګړنه خپلې شبکې ته ور زیاته کړه، چې له مخې یې تاسې خپل اکونټ ته یو وارث ټاکئ، دا وړتیا لومړی یوازې په امریکا کې وه، خو وروسته نورو هېوادونو ته هم ښایي دا وړتیا ورکړل شي. په لومړي سر کې د شخصي حریم په اړه ځینې پوښتنې د فیسبوک پر وړاندې کېدلې، دا پوښتنه هم کېدله چې فیسبوک به د یوه کاروونکي له مرګ وروسته د هغه له اکونټ سره څه ډول چلند کوي؛ نو فیسبوک د خلکو د پوښتنو د ځواب لپاره د وارث ځانګړتیا پر فیسبوک ور زیاته کړه، د دې ځانګړتیا په کارولو ستاسې وارث فیسبوک ته محدود لاسرسی لري او په دې توګه هغه کولی شي راغلو بلنو ته ځواب ووایي، هغه کولی شي ستاسې پوسټونه او انځورونه ډانلوډ کړي، خو ستاسې مسیجونه نشي کتلی او ستاسې په کړو پوستونو کې ګوتې نه شي وهلی، په دې مانا چې هغه اېډیټ کولی نه شي. همدارنګه هغه پاکولی هم نه شي او ستاسې له اکونټ څوک له ملګرتیا نه شي ایستلی.

مارک زوکر برګ د فیسبوک بنسټګر په اصل کې ارواپوهنه لوستې ده. هغه د هارورډ پوهنتون د اروپوهنې په پوهنځي کې په زده کړو بوخت و، خو تر څنګ یې په ټولنیزو شبکو کې فعالیت کاوه او ځینې سایټونه یې جوړ کړي وو. هغه تر دې مخکې د کورس مچ، او فیس مش په نامه ځینې سایټونه جوړ کړي وو، په فېس مش کې به د اشخاصو د جذابیت میزان معلومېده، خو په ۲۰۰۴ کال کې یې ستر کار وکړ او فیسبوک یې جوړ کړ، هغه د فیسبوک د جوړولو پر مهال ۲۰ کلن و، له خپلو ملګرو سره یې د ده فیسبوک سایټ جوړ کړ او په لومړیو څلور ویشتو ساعتونو کې ۱۲۰۰ کسانو په هغه کې اکونټ جوړ کړ. دا کسان ټول د هارورډ د پوهنتون محصلین وو، له یوې میاشتې وروسته د یاد پوهنتون نیمو زده کوونکو په فیسبوک کې اکونټونه لرل.

د ۲۰۰۴ کال په نیمایي کې شان پارکر چې د نپتسر بنسټګر و، د فیسبوک مشر وټاکل شو، تر هغه مخکې د زاکر بورګ سلاکار و، د همدې کال په جون کې د فیسبوک مرکز د کالفورنیا ایالت پالو التو سیمې ته ولېږدول شو. په فیسبوک کې لومړنۍ پانګونه پتر پاول وکړه، په ۲۰۰۵ کال کې یې پته فیسبوک ټکی کام شو، دوی خپله انټرنېټي صفحه په ۲ سوزه زره ډالره وپېرله، په ۲۰۰۶ کال کې یاهو او ګوګل د یاد سایټ د اخیستلو وړاندیزونه وکړل، خو زاکر برګ رد کړل. خو له دې ټولو سره سره مایکروسافټ بریالی شو چې د یاد شرکت ۱،۶ سلنه سهام او همدارنګه پر یاد سایټ د اعلانونو امتیاز په ۲۵۰ زره ډالره واخلي.

په لومړي سر کې په فیسبوک کې غړیتوب د امریکا په ځینو پوهنتونونو او انسټیټیوټونو پورې محدود و، وروسته د ۲۰۰٦ کال په سپټمبر کې نورو خلکو هم دا امکان پیدا کړ، چې په هغه کې اکونټونه پرانیزي. فیسبوک دمګړۍ د نړۍ تر ټولو ستره ټولنیزه شبکه ده او له هرو اوو انسانانو یو یې فیسبوک کاروي یا پکې اکونټ لري.

سره له دې چې فیسبوک نړیوالو ته ډېرې اسانتیاوې برابرې کړې، خو دومره ستونزې یې هم ورته جوړې کړې دي. د بېلګې په توګه، په انګلستان کې څېړنې ښیي چې په یاد هېواد کې د طلاق له پنځو پېښو درې یې د فیسبوک له امله رامنځته کېږي. همدارنګه د ویکي لیکس بنسټګر هم وایي چې فیسبوک د جاسوسۍ تر ټولو بده او منفوره شبکه ده چې تر اوسه جوړه شوې ده. د هغه په وینا، فیسبوک د امریکا د جاسوسۍ لپاره داسې شبکه ده چې په وړیا توګه معلومات د دوی په واک کې ورکوي. هغه ویلي فیسبوک داسې شی دی چې هر څوک خپل معلومات پخپله خوښه هغه ته ورکوي، خو پر وړاندې یې د امریکا جاجوسي اداري د خلکو معلومات په وړیا توګه له شبکو اخلي. هغه زیاتوي چې پخوا به د امریکا جاسوسي کارکوونکو په دې کار میلیونونه ډالر لګول، خو اوس دا کچه په ځلونو راټیټه شوې ده.

فیسبوک په ۲۰۱۳ کال کې یوه خبرپاڼه خپره کړه او په هغه کې یې وویل چې دوی د کاروونکو هغه لیکنې ځاري، چې دوی یې خپرول نه غواړي. د فیسبوک دغه کار غبرګونونه را وپارول او د ۲۰۱۴ کال په جون کې یوه شبکه جوړه شوه او په هغه کې ۲۷ زرو کسانو د فیسبوک دا کار وغانده او له دوی یې وغوښتل چې د خلکو نا خپرې کړې لکینې دې نه ځاري. وروسته د فیسبوک ویاند د خلکو په ځواب کې وویل چې فیسبوک به د خلکو نا خپرې کړې لیکنې او پوستونه له دې وروسته نه ځاري.

فیسبوک له دولتونو سره هوکړه لري او په اظطراري حالاتو کې دوی ته ځینې معلومات ورکوي. دا کار فیسبوک د لومړي ځل لپاره په ۲۰۱۳ کال کې وکړ. په یوه راپور کې راغلي چې د همدې کال په لومړۍ نیمایي کې بېلو حکومتونو د ۳۸ زره کسانو په اړه معلومات غوښتي وو، چې له دې ډلې د ۸۰ غوښتنې پوره شوې دي. په دې ډله کې د نړۍ ۷۴ هېوادونو د ځینو خلکو په اړه معلومات غوښتي وو او د دې غوښتنو نیمایي د امریکا د حکومت وې، چې ۷۹ سلنه غوښتنې یې پوره شوې دي. برېتانیا د ۲۳۰۰ کسانو په اړه معلومات غوښتي وو چې ٦٨ سلنه غوښتنې یې پوره شوې دي. ترکیې د ۱۷۳ کسانو په اړه معلومات غوښتي وو چې له دې ډلې د ۴۵ کسانو په اړه یې معلومات ورکړل شوي دي.

فیسبوک وایي دوی په هر حالت کې چا ته د کوم فرد په اړه معلومات نه ورکوي، دوی دا کار یوازې په اضطراري حالتونو او د ماشومانو د حقوقو د خوندیتابه پر وخت له حکومتونو سره کولی شي.

په دې وروستیو کې فیسبوک اعلان کړی چې د «اکوېلا» په نامه نوې جوړې شوې لمریزې الوتکې یې په بریالیتوب سره لومړی پرواز تر سره کړی دی. ویل کېږي چې دغه الوتکه به انټرنېټي څپې خپرې کړي چې ورسره به په انټرنېټ نه لرونکو سیمو کې هم د فیسبوک کارونه شوني شي. د فیسبوک کارکوونکی جې پاریک وایي، زموږ ټینګار په دې دی چې د نړۍ اوسېدونکي سره ونښلوو، په ډېرو برخو کې مو پر ټکنالوژۍ پانګونه کړې چې د «اکوبلا پروژه» یې یوه ده. دا الوتکې په لمریزې برښنا چلېږي چې د څو میاشتو لپاره پر لرو سیمو له انټرنېټ سره د نښلول کېدو شونتیا رامنځته کوي. د اکوبلا بې پیلوټه الوتکه د بوینګ ۷۳۷ ډوله الوتکې په څېر اوږده وزر لري او وزن یې د یوه کورني موټر درېیمه برخه دی، خو لومړی ځل چې والوته، له ځینو ستونزو سره مخ شوه. د فیسبوک بنسټګر مارک زوکر برګ اریزونا ایالت ته تللی، چې د بې پیلوټه الوتکې لومړی سفر وګوري، هغه ویلي چې لا هم په دې برخه کې ستونزه شته، خو دا پروژه به بریالۍ شي او دوی به د نړۍ ګوټ ګوټ ته انټرنېټ ورسوي.

فیسبوک تېر کال ۵.۸۴ میلیارده ډالر ګټلي دي، وروسته له دې چې ډېری کمپنیو د تېر کال مالي راپورونه خپاره کړل، د فیسبوک وار هم را ورسېد. فیسبوک په خپل راپور کې ویلي چې دوی په خپله ستره ټولنیزه شبکه کې هره میاشت ۱.۵۹ میلیارده فعال غړي لري چې له دې لارې یې په ۲۰۱۵ کال کې کلنی عاید تر ۵.۸۴ میلیارده ډالرو لوړ شوی دی. په دې توګه فیسبوک خپل صعودي مسیر وهلی او د تېر کال په پرتله یې ۵۲ سلنه وده کړې ده. د فیسبوک مرکزي دفتر اوس هم په کالفورنیا کې دی او مشري یې مارک زوکر برګ کوي. د کارکوونکو شمېر یې د ۹ زرو په شاوخوا کې دی او کلنۍ خالصه ګټه یې تر ۵۰ میلیونو ډالرو پورې رسېږي او په ټوله نړۍ کې په ۱۱۱ ژبو فعالیت لري.

## اقتصاد

### د اسعارو بیې

| | |
|---|---|
| $ | ۸۰,۲۰ |
| € | ۹۳,۸۰ |
| Rp. | ۴۹۱ |
| ₹ | ۱۰۹۰ |
| ¥ | ۱۱,۸۰ |
| £ | ۱۰۸,۲۰ |

### بېړنۍ شمېرې

پولیس
119 - 100

امبولانس
112

اتاترک روغتون
0202500312

ملالۍ زېږنتون
0202201377

وزیر محمد اکبرخان روغتون
0202301360

رابعه بلخي روغتون
0202100439

د کرونا روغتیایي مرکز
166

همیانی

# دغه خبرې مو په کاري محیط کې په زیان تماميږي

ژباړه: صفي الله پادشاه

ژبه! زموږ په خوله کې یوه کوچنۍ، خو ورانوونکې او خطرناکه غوښینه ټوټه.
که چېرې مو خپله ژبه تر کنټرول لاندې راوسته، کولای شي په یوې کلمې سره مو تر عرشه ورسوي، خو که مو له کنټروله ووته، په یوې کلمې سره کولای شي هرڅه له خاورو سره خاورې کړي.
پاولو کوېلو وايي، د ټولو هغو وسلو په منځ کې چې د بشر په لاس جوړې شوې دي، تر ټولو وېروونکې او پیاوړې وسله، هغه کلمې دي چې موږ یې په خپله ژبه باندې وایو.
چړې او نیزې، غشي، د ټوپک ګولۍ او بله هره وسله خپل ټپ او داخ پر ځای پرېږدي، خو یوازې ژبه ده چې له ورانولو، ماتولو او ټپي کولو وروسته خپل داغ پر ځای نه پرېږدي او هر څه له منځه وړي.
خو پر دې هر څه سربېره، هوښیار خلک پر دې پوهېږي چې په کومو ځایونو کې د کومو کلماتو له کارولو او ویلو څخه ډډه وکړي.
دا مقاله تر پایه ولولئ، څو هغه لس جملې په ګډه سره وڅېړو چې هوښیار خلک یې هېڅکله په خپل کارځای کې نه وايي.
ډېرې داسې خبرې شته چې هېڅکله یې باید په کارځای کې پر ژبه را نه وړئ. هغه خبرې چې غواړو په هکله یې بحث وکړو، له ځانګړې ځواک څخه برخمنې دي.
دغه خبرې ستاسو د بد معرفي کولو لپاره یو خارق العاده قدرت له ځان سره لري، ان هغه وخت هم چې ستاسو خبرې حقیقت لري. تر دې هر څه بده لا دا چې کله دغه خبرې پر ژبه راوړې، نور نو خبره له خبرې تېرېږي او هغه د چا په وینا، له ورخه تللې اوبه بېرته نه را ګرځي.
دغه جملې په لاندې ډول دي:

**لومړۍ خبره: دا کار تل په همدې ډول تر سره شوی**
په نننۍ پرمختللې نړۍ کې بدلونونه دومره په چټکۍ سره رامنځته کېږي، چې ان یوه شپږ میاشتنۍ پروسه یا جریان هم سړي ته ډېر پخوانی ښکاري. د دغې جملې ویل چې د کار طریقه تل همداسې ده، نه یوازې دا چې تاسو ټنبل او بدلون نه منونکي معرفي کوي، بلکې د دې لامل کېږي څو ستاسو رییس فکر وکړي، چې تاسو ولې د کار د جریان او طریقې د ښه والي او نوښت رامنځته کولو په فکر کې نه یاست.
که چېرې یو کار تل په یوه طریقه تر سره کوی، نو هرو مرو د هغه کار د تر سره کولو لپاره نورې لارې هم شته؛ خو دا تاسو یاست چې د بدلون او نوښت پر وړاندې مقاومت ښیئ.

**دویمه خبره: په دې کې زما ګناه نه ده**
پر نورو باندې پړه اچول، هېڅکله یو ښه نظر نه دی. تاسو باید مسوول و اوسئ. که چېرې مو په یوه ناسم تر سره شوي کار کې تر ټولو کوچنی رول هم درلودلی وي؛ مسوولیت یې پر غاړه واخلئ او که مو هېڅ رول نه پکې درلود، د اصلاح او حقیقت په تړاو یې بې طرفانه وضاحت وړاندې کړئ. کله چې د کوم چا پر لوري د تور یا اتهام ګوته نیسی، هغه شبهه ده چې مقابل لوری پر دې پوهېږي چې تاسو هغه څوک یاست چې د خپلو کړنو مسوولیت پر غاړه نه اخلی. ستاسو دا ډول چلند د نورو د ازار او اذیت لامل کېږي او ځینې خو یې ان له تاسو سره له کار کولو لاس اخلي؛ خو که چېرې څوک درسره پاتې هم شي، د تېروتنې له رامنځته کېدو سره سم یې پړه لومړی پر تاسو اچوي.

**درېیمه خبره: نشم کولای**
کولای شو ووایو چې «نشم کولای» جمله د «زما ګناه نه ده» جملې مترادفه ده. خلک هېڅکله نه غواړي چې د «زه نشم کولای» جمله واوري، ځکه چې د هغوی په نظر د یادې جملې مانا «زه یې نه تر سره کوم» ده. د «نشم کولای» ویل، د دې ښرګندویي کوي چې تاسو نه غواړی د هغو مسوولیتونو پړه پر غاړه واخلی، چې د یوه کار د تر سره کولو لپاره لازم دي.
که چېرې د یوه کار د نه تر سره کولو لپاره ستاسو دلیل د لازمو مهارتونو نه درلودل وي؛ غوره ده چې یوه بله او نوې حللاره وټاکئ. د بېلګې په توګه، د دې پر ځای چې ووایاست «زه نشم کولای چې دغه محاسبه تر سره کړم»، کولای شئ ووایاست «زه لاهم نشم کولای چې دغه ډول محاسبه تر سره کړم، ایا څوک شته چې را زده یې کړي، څو بل ځل یې په خپله تر سره کړم؟».

**څلورمه خبره: دا عادلانه نه ده**
ټول پوهېږي چې ژوند عادلانه نه دی. د «ژوند عادلانه نه دی» ویل په دې مانا ده چې تمه ده ژوند عادلانه وي، خو داسې نه دی او دغه خبره تاسو خام او بې تجربې ښیي. که چېرې نه غواړی چې د نورو په ذهن کې ستاسو په اړه ناسم انځور تشکیل شي، پر حقیقتونو تکیه وکړئ، ګټور شخص اوسئ او په هره موضوع کې یوازې له خپل فکر او تعبیر څخه کار مه اخلئ.
د بېلګې په توګه، کولای شی ووایئ، فلانۍ پروژه چې ما په ډېره ښه توګه تر سره کولای شوای، تاسو زما یوه بل همکار ته وسپارله، کېدای شي چې ستاسو د دغې ټاکنې پر دلیل پوه شم؟ غواړم پوه شم چې ستاسو له نظره د یادې پروژې د تر سره کولو لپاره زه ولې مناسب نه وم؟

**پنځمه خبره: دا زما د کار او دندې اړوند نه کېږي**
دغه طعنې ته ورته خبره د دې لامل کېږي څو تاسو داسې ښکاره شی چې ګواکې یوازې د میاشتنۍ تنخواه لپاره خپله دنده تر سره کوی او نور د هېڅ شي مسوولیت نه لری. که چېرې د دندې خوندیتوب درته مهم وي، بیا نو دغه ډول فکر او ذهنیت هېڅ ښه نه دی. که چېرې ستاسو رییس له تاسو غواړي چې هغه کار تر سره کړی چې ستاسو له موقف او موقعیت سره مناسب نه دی، نو که چېرې له اخلاقیاتو سره په ټکر کې نه و، غوره ده چې درسپارل شوې دنده په پوره لېوالتیا تر سره کړئ. خو د کار له پای ته رسولو وروسته له خپل رییس سره په شرکت یا اداره کې د خپل رول په اړه خبرې وکړئ او له هغه سره شریکه کړئ چې ایا په اداره کې ستاسو دندې او مسوولیت د تېر په پرتله بدلون کړی او که نه. دغه چاره د دې لامل کېږي څو تاسو بې ارزښته او بې مسوولیته ښکاره نه شي.

**شپږمه خبره: ښایي زما دا یو احمقانه نظر وي، یا غواړم یوه احمقانه پوښتنه وکړم**
دغه له ارادې خالي جملې، له ځنډ پرته ستاسو باور له منځه وړي. ان که د دغو جملو له ویلو وروسته یو غوره نظر وړاندې کړی، بیا مو هم داسې ښودلې ده چې پر ځان باور نه لری او اورېدونکی هم پر تاسو باندې خپل باور له لاسه ورکوي. که چېرې پر خپلو خبرو باور ونه لری، نور هم پر تاسو باور نه کوي. که چېرې د یوې موضوع په هکله نه پوهېږی، ووایاست چې اوسمهال زه په دې اړه پوره مالومات نه لرم، اجازه راکړئ چې لومړی په دې اړه ځان پوه کړم او وروسته یې په اړه درسره خبرې وکړم.


**اوومه خبره: هڅه به وکړم**
هڅه کول هم د فکر کولو په څېر ازمایښتي ښکاري او دا په دې مانا ده چې تاسو د یوه کار د تر سره کولو لپاره پر خپله وړتیا باور نه لری. د خپلو وړتیاوو بشپړ مالکیت په لاس کې واخلئ. که چېرې له تاسو وغوښتل شول چې یو کار تر سره کړی او یا د کوم کار په هکله نظر درڅخه وغوښتل شو، هېڅکله مه وایاست چې هڅه به وکړم؛ ځکه دغه خبره په دې مانا ده چې د سل سلنه هڅې کولو اراده نه لری، بلکې مازې مو له مسوولیته ځان خلاص کړ. پر ځای یې غوره ده چې ووایاست، خپله ټوله هڅه کوم څو دغه کار په ښه توګه تر سره کړم.

**اتمه خبره: یوازې یوه دقیقه وخت نیسي**
دا خبره چې د فلاني کار تر سره کول یوازې یوه دقیقه وخت نیسي، ستاسو وړتیاوې تر سوال لاندې راولي او داسې ښکاري چې ګواکې تاسو غواړی خپل کار په بېړه تر سره کړی. که په رښتیا هم احساس کوی چې کولای شی یو کار په شپېتو ثانیو کې تر سره کړی، نو راحت اوسئ او ووایاست چې د فلاني کار تر سره کول ډېر وخت نه غواړي. خو داسې یوه خبره مه کوئ چې د دې ښرګندویي وکړي چې خدای ناخواسته تاسو خپل در سپارل شوی کار په بېړه او بې دقته تر سره کوی.

**نهمه خبره: دا کار مې هېڅ نه خوښېږي**
وروستی څه چې په کاري چاپېریال کې یې نور له تاسو څخه اورېدای شي، دا دی چې ووایاست، له فلاني کار څخه ځومره کرکه لری. دا ډول یوه خبره پر تاسو باندې د یوه منفي شخص ټاپه لګوي او تاسو په کاري چاپېریال کې د ټولیزې روحیې د کمزورې کېدو او ان له منځه تلو لامل کېږي.
د رییسانو تېز نظره سترګې تل د هغه منفي فکره کار کوونکو پر لوري دي، چې د نورو روحیه کمزورې کوي. البته باید وویل شي چې ستاسو رییس پر دې پوهېږي چې ډېر نور داسې کسان شته چې په مثبته روحیه او لوی زړه باندې کار کولو ته لېواله دي. خو دا چې تاسو یې له خپل دغه منفي فکر سره سره لا هم په دنده کې پرېښې یاست، هرو مرو کوم دلیل لري. نو دې دا ډول یوې خبرې په ویلو سره حتماً له دندې څخه د لرې کېدو فکر هم له ځان سره ولرئ.

**فلانی شخص ټنبل دی، پر هېڅ هم نه پوهېږي، احمق دی...**
د خپلو همکارانو په تړاو له سپکاوي ډک نظر وړاندې کول، هېڅ مثبت اړخ نه لري. که چېرې د هغوی په اړه ستاسو نظر سم هم وي، ټول پر دې پوهېږي او اړتیا نشته چې یادونه یې وکړئ او که چېرې مو نظر ناسم وي، بیا نو دا تاسو یاست چې په پای کې احمق او تور پورې کوونکي ښکاری. ښکاره ده چې په کاري چاپېریال کې به ټنبل او نا لایق کسان هم وي، او ښایي ډېر نور کسان هم ستاسو په څېر هغوی وپېژني، نو که چېرې تاسو دې دا ډول کسانو د اصلاح کولو یا له دندې څخه د ګوښه کولو توان نه لری، بیا نو غوره ده چې د هغوی د نیمګړتیاوو په هکله له خبرو کولو لاس واخلئ. که داسې ونه کړی، هرو مرو به داسې ورځ هم راشي چې نور به یو له بل سره ستاسو د نا لایق‌توب په هکله خبرې وکړي.
دې دا ډول جملو کارول ښه پایله نه لري، نو د تل لپاره په کاري چاپېریال کې خپلو خبرو ته متوجه اوسئ. پام مو وي چې په کاري چاپېریال کې ټول ستاسو دوستان او ملګري نه دي...
په یاد ولرئ، ژوند هېڅکله نه اسانه کېږي، بلکې تاسو باید قوي او پیاوړي شئ!

# تازه شمېرې: په نړۍ کې د کرونا وبا د مړو شمېر له څلور میلیونه او ۱۷۱ زرو کسانو واوښت



د تازه شمېرو له مخې، په نړۍ کې پر کرونا ویروس د اخته کسانو شمېر ۱۹۴ میلیونه او ۵۸۲زره او ۷۵۰ کسانو ته رسېدلی دی. دغه راز د یاد ویروس له کبله تر دې مهاله څلور میلیونه او ۱۷۱ زره او ٦۷۲ کسان مړه شوي او له ۱۷٦ میلیونو ډېر ترې بېرته رغېدلي دي.
د یادو شمېرو له مخې، د امریکا متحده ایالتونه د دغه ویروس د ډېرو مثبتو پېښو او قربانیانو له اړخه د نړۍ تر ټولو مخکښ هېواد دی. د راپورونو پر بنسټ، په امریکا کې د دغه ویروس مثبتې پېښې ۳۵میلیونه او ۱۸۴ زره او ٦۷۱ ته رسېدلي او ٦۲٦زره او ۷۱۳ نور امریکایان ترې مړه شوي دي.
دغه راز هند د ۳۱میلیونه او ۳۷۱ زره او ۹۰۱ مثبتو پېښو له اړخه د نړۍ دویم، برازیل د ۱۹ میلیونه او ٦۷۰ زره او ۵۳۴ مثبتو پېښو په درلودو سره د نړۍ درېیم، روسیه د شپږ میلیونه او ۱۲٦ زره او ۵۴۱ مثبتو پېښو له اړخه د نړۍ څلورم او فرانسه د پنځه میلیونه او ۹۷۸ زره او ٦۹۵ مثبتو پېښو له اړخه د نړۍ پنځم هغه هېواد دی، چې د کرونا ویروس ډېرې پېښې پکې ثبت شوې دي. برېټانیا، ترکیه، ارجنټاین، کولمبیا او ایټالیا بیا په ترتیب سره شپږم، اووم، اتم، نهم او لسم هغه هېوادونه دي چې د کرونا له کبله ډېر ځپل شوي دي.
بلخوا په اروپایي هېوادونو کې لسګونه زرو کسان د کرونا د مخنیوي لپاره د حکومتونو له خوا د نویو محدودیتونو پر ضد لاریونونو ته راوتلي دي. د دغو لاریونونو له ډلې تر ټولو لوی یې په فرانسه کې و چې له اټکل سره سم، یو لک او ۸۰ زره کسانو پکې برخه اخیستې وه.
دوی له هغې لایحې سره مخالفت وښود، چې پر اساس یې باید هر څوک رسټورانټونو او نورو عامه ځایونو ته د ننوتو لپاره ځانګړی کارت ولري او همداراز د روغتیایي سکټور ټول کارکوونکي باید د کرونا پر وړاندې واکسین شوي وي.
دغو لاریونوالو په ډېریو ځایونو له پولیسو سره نښتې هم کړې دي، خو د مرګ ژوبلې په اړه یې تر اوسه کوم راپور نه دی ورکړل شوی. د فرانسې د کورنیو چارو وزیر جرالد درامن وویل چې د لاریونونو پرمهال یې یو شمېر کسان نیولي هم دي. نوموړي ویلي چې لاریونوالو د پولیسو او ژورنالېستانو پر ضد له تاوتریخوالي کار اخیستی دی.
د فرانسې د سنا جرګې غړو وروسته له دې پر لایحې بحث پیل کړ، چې یوه ورځ وړاندې ولسي جرګې تصویب کړې وه. ډېری بالغ فرانسویانو د کرونا ویروس پر ضد بشپړ واکسین کړی او څو نظرپوښتنو ښودلې چې اکثریت خلک د نویو مقرراتو پلوي دي، خو لایحه به روغتیایي کارت حتمي کړي او که یې څوک ونه لري، نو موزیمونو، سینماګانو، توریستي ځایونو، رسټورانټونو، بارونو او نورو ځایونو ته به ننوتی نه‌شي.

مسیر ورځپانه
**مسوول مدیر:** اسدالله وحیدي
**مرستیال:** شفیق امیرزی
**اېډېټران:** جواد تیموري او امان الله حنیفي
**خبریالان:** حمیدالله حمیدي، حکمت آرین
او حشمت الله نوري
**ډیزاین:** حسیب الرحمن ساحل
maseerdaily@gmail.com
0202502100 / 0777989696
www.maseerdaily.af
Maseer Daily
MaseerDaily
**چاپخونه:** وایګل چاپ
0202512626 / 0782989696

Maseer
New Vision, New Journey
Daily

غوره کیفیت او چټک خدمات په
وایګل چاپ کې تجربه کړئ!
وایګل چاپ
WAYGAL Printing Co.
+93 (0) 202 51 2626, +93 (0) 782 98 9696
waygalprinting.co@gmail.com
waygalprinting.co
Dehbori Crossroads in Front of Park Kabul

دوشنبه د ۱۴۰۰ د زمري ۴مه | د ۲۰۲۱ د جولای ۲۶مه | ۷۵۱مه ګڼه
www.Maseerdaily.af | twitter/MaseerDaily | Facebook/MaseerDaily

| کابل | هرات | کندهار | بلخ | ننګرهار | خوست |
|---|---|---|---|---|---|
| ۳۹ | ۳۸ | ۴۵ | ۴۳ | ۴۴ | ۳۷ |
| ۲۱ | ۲۸ | ۳۰ | ۳۵ | ۳۰ | ۲۵ |

شرعي وختونه: سهار ۰۳:۲۰ | لمر ختل ۰۴:۵۹ | ماسپښین ۱۲:۰۰ | مازیګر ۰۴:۵۶ | ماښام ۰۷:۰۱ | ماخوستن ۰۸:۳۹

## نړۍ




تازه‌شمېرې:

## په نړۍ کې د کرونا وبا د مړو شمېر له څلور میلیونه او ۱۷۱ زرو کسانو واوښت

۵

## راپورونه: په هند کې د موسمي بارانونو له کبله ۱۱۵ کسان مړه شوي



د راپورونو له مخې، په هند کې د موسمي بارانونو له کبله د مړو شمېر ۱۱۵ کسانو ته لوړ شوی دی. د هند په لوېدیځو سواحلو کې د مانسون د موسمي بارانونو له کبله د وروستیو څو ورځو سېلابونو په پایله کې د هند لوی سوداګریز مرکز ممبی ښار ته نږدې د ځمکې ښوېدنې او د ودانیو د ویجاړېدو پېښې رامنځته شوې دي.
د یاد هېواد د چارواکو په وینا، د دې پېښو په پایله کې پر ځاني مرګ ژوبلې سربېره، لسګونه کسان تري تم شوي او شاوخوا ۱۳۵ زره کسان له خپلو کورونو وتلو ته اړ شوي دي.
د دوی په خبره، د مانسون د موسمي اورښتونو له کبله د ګوا په ساحلي ایالت کې داسې سېلابونه راوتلي، چې ساری یې په څو لسیزو کې نه دی لیدل شوی.
دغه راز د فلیپین په پلازمېنه مانیلا کې د همدې موسمي اورښتونو له کبله زرګونه کسان له خپلو کلیو او کورونو څخه وتلي دي. په تېرو څو ورځو کې د مانسون د پرله‌پسې اورښتونو له کبله په مانیلا او شاوخوا ولایتونو کې د سیند د اوبو کچه لوړه شوه او سېلابونه راوتلي دي. چارواکي وایي چې دغو سېلابونو خلکو ته درنه مرګ ژوبله اړولې ده.

## الکاظمي: په عراق کې نور د بهرنیو ځواکونو حضور ته اړتیا نه لرو

د عراق لومړی وزیر مصطفی الکاظمي وایي، هېواد یې له دې وروسته د اسلامي دولت د ډلې پر وړاندې د جګړې لپاره د متحده ایالتونو نظامي ځواکونو ته اړتیا نه لري، خو د هغه په وینا، په عراق کې د امریکا د پوځي ماموریت د پای د نېټې ټاکل د عراقي او امریکايي ځواکونو ترمنځ په خبرو پورې تړلې چې ټاکل شوې په روانه اونۍ کې وشي.
کاظمي واشنګټن ته د سفر په درشل کې له اسوشیټېډپرېس اژانس سره په مرکه کې ویلي چې دی به بیا هم عراقي ځواکونو ته د زده کړو او د پوځي استخباراتو په ټولولو کې د امریکا د متحده ایالتونو سره د همکارۍ غوښتنه وکړي.
ټاکل شوې چې کاظمي به نن د متحده ایالتونو له ولسمشر جو بایډن سره وګوري. د عراق لومړي وزیر پر دې ټینګار سره چې د عراق دفاعي او امنیتي ځواکونه د امریکا په مشرۍ ائتلاف ځواکونو له همکارۍ پرته د خپل هېواد د دفاع وړتیا لري، وویل:
«د عراق په خاوره کې بهرنیو محاربوي ځواکونو ته اړتیا نشته.»
د هغه په خبره، له عراق څخه د بهرنیو ځواکونو د وتلو پروګرام به د عراق د ځواکونو د اړتیا پر اساس تنظیم شي. د نوموړي په وینا:
«د اسلامي دولت د ډلې پر ضد جګړه او زموږ د ځواکونو احضارات یو ځانګړي زماني جدول ته اړتیا لري، او د دې زماني جدول ټاکل په هغو مذاکراتو پورې مربوط دي چې له واشنګټن سره به یې ولرو.»


## سازمان ملل: جنگ‌جویان القاعده هم‌اکنون در ۱۵ ولایت افغانستان حضور و فعالیت دارند



کمیتهٔ نظارت از تحریم‌های شورای امنیت سازمان ملل متحد در یک گزارش تازه، باردیگر از حضور جنگ‌جویان شبکهٔ القاعده در افغانستان پرده برداشته‌است. در این گزارش آمده‌است که جنگ‌جویان القاعده هم‌اکنون در ۱۵ ولایت افغانستان حضور و فعالیت دارند.
بربنیاد این گزارش، جنگ‌جویان القاعده بیشتر در بخش‌های شرقی، جنوبی و جنوب‌شرقی افغانستان حضور و فعالیت دارند. در این گزارش شورای امنیت سازمان ملل متحد هم‌چنین آمده‌است که ایمن الظواهری، رهبر القاعده زنده است و در افغانستان حضور دارد. بربنیاد این گزارش، رهبر القاعده اکنون در بستر بیماری به‌سر می‌برد.
شورای امنیت سازمان ملل متحد، هم‌چنین نگاشته‌است که پایگاه گروه داعش در پایتخت افغانستان نیز تقویت شده‌است و فعالیت جنگ‌جویان این گروه گسترش یافته‌است.
بربنیاد این گزارش، داعش هم‌اکنون در بخش‌هایی از شرق، جنوب و جنوب‌شرق افغانستان از جمله در ولایت‌هایی چون نورستان، بادغیس، سرپل، بغلان، بدخشان و کندز پایگاه دارد.
در گزارش آمده‌است که شاخهٔ خراسان داعش، تلاش‌ها را برای جلب و جذب جنگ‌جو بیشتر ساخته و رهبران این گروه امیدوار اند ده هزار جنگجوی طالبان را که از توافق صلح با امریکا ناراض اند به خود شان جذب کنند.
شماری از اعضای ولسی جرگه، این گزارش سازمان ملل را نگران کننده می‌دانند و می گویند که باید در برابر داعش و القاعده اقدام شود.


## ژوند

## د مټرو روغتیايي ګټې



مټر د حجم له پلوه کوچني دي، خو که چېرته یې بدن ته د ګټو په اړه خبرې کوو، نو دومره ډېرې حیرانوونکې ګټې لري چې د روغتیا اړوند ډېرې ستونزې حلوي. مټر په خپل جوړښت کې د مګنیزیم، ویټامین کې، ویټامین اې، ویټامین سي او د ویټامین بي په درلودلو اغېزمن تمامېږي. مټر د خوراکي توکو له جملې هغه خوراکي توکی دی چې ډېر ارزانه او په آسانۍ سره تر لاسه کېږي او د بدن لپاره اړین پروټین برابروي. دغه راز د مټرو امینو اسید چې پروټین جوړوي، عضلو او هډوکو ته پیاوړتیا ورکوي او د پوستکي د ښکلا سبب کېږي. د مټرو ویټامین اې د سترګو د نظر یا دید لپاره ډېر ګټور تمامېږي او د فایبرو شتون یې د هضم لپاره حیرانوونکې ګټې لري، چې فضله مواد په آسانۍ خارجوي، کولمو ته ګټور وي او د قبض مخنیوی کوي.
مټر د ویټامین کې په درلودلو سره د پروستات د سرطان پر وړاندې مقابله کوي او داسې مرکبونه لري چې د تیومر د ودې مخنیوی کوي.

## ټوېټر یوازې خپلو ملګرو ته د ټویټ کولو سیستم باندې کار کوي



ټوېټر کې د یو کاروونکي ټول تعقیبوونکي او مینه‌وال کولی شي د نوموړي ټویټ وګوري، ځواب ورکړي یا له خپلو نورو ملګرو سره یې شریک کړي. خو اوس ټوېټر کمپنۍ د ټویټ کولو نویو لارو معرفي کولو په اړه فکر کوي.
د راپورونو پر بنسټ، ټوېټر اوسمهال په دغه برخه کې په دوو نویو ځانګړنو کار کوي چې کاروونکو ته یوازې ځانګړو خلکو ته د ټویټ کولو اسانتیا وړاندې کوي. لومړۍ ځانګړنه دا ده چې کاروونکي کولی شي د باوري ملګرو ځانګړنه فعاله کړي. د دغې ځانګړنې له فعالولو وروسته به یوازې د دغه کاروونکي باوري ملګري د نوموړي ټویټ ته لاسرسی ولري. دغه ځانګړنه د انسټاګرام په اسټوریز کې کلوز فرېنډز نومې ځانګړنې ته ورته ده او د ټوېټر اړوندې ادارې له لوري د دغې ځانګړنې تصویر هم خپور شوی دی. د دغې ځانګړنې پر بنسټ، هر کارکوونکی به د ټویټ کولو پر مهال دوه انتخابونه ولري. کاروونکی کولی شي د ټویټ پر مهال «ټول» یا «باوري ملګري» انتخاب کړي. اوسمهال په دغو ځانګړنو کار روان دی او کېدای شي نږدې راتلونکې کې کاروونکو ته وړاندې شي.

کوچني او منځني سوداګریز پورونه
عزیزي بانک ستاسو د سوداګرۍ د پرمختګ او ودې لپاره کوچني او منځني پورونه په ډېرو اسانو شرایطو وړاندې کوي. ټول هغه افغان سوداګر چې درې فعاله پروژې ولري کولی شي دغه پور چې د بیا ادایني قسطونه یې د یو کال څخه تر دوه کلونو پورې کې ترسره کېږي، ترلاسه کړي.
www.azizibank.af
1515
عزیزي بانک
Azizi Bank